# د ولاء او براء موضوع دهغو معنا او د هغو رامنځ ته کیدل کتاب

ليکوال

د ازهر پخوانی ریس أ.د. إبراهيم صلاح الهدهد

وړاندی کونکي

د ازهرشريف د لويوعلماوو د مؤسسي د غړي

او د ازهر د فارغانو نړيوالی مؤسسی د مشر مرستيال

أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي

ژباړه :عبدالبصيرمحبی بيا کتنه : قريش الله احمدزی

د ازهر د فارغانو نړیواله مؤسسه

د تندروو مفكورو د باطلولو مركز د تندروومفكورو د باطلولو لړۍ (۴):

# د ولاء او براء موضوع دهغو معنا او د هغو رامنځ ته كيدل كتاب

عمومي څارونكي ليكوال : ابراهم الهدهد

أ .د.محمدعبدالفضيل القوصي په دغي مؤسسه كې د ثبتولو شميره :۲۶۴۱۷ /۲۰۱۸

داداري شورا رئيس نړيواله شميره : ۵_ ۵_ ۸۵۴۶۲_ ۹۷۷_ ۹۷۸

أسامة ياسين

عمومي مدير

حمداالله الصفتي

خبرداري

د دي كتاب ټول حقوق د ازهرشريف د فارغانو نړيوالي مؤسسي ته ساتلي او خوندي دي، او ددغي مؤسسي له مخكينۍ ليكلي موافقي پرته د دي كتاب د خپرولو، يا بيا خپرولو، يا د كتاب يا د هغه دهري برخي د توليدولو، يا د راګرځولو يا د بيا ترلاسه كولو په وسائلو باندي د هغه د كوټ كولو يا په هرډول د هغه د ثبتولو اجازه نشته .

د ازهرشريف د فارغانو نړيواله مؤسسه

د تندروو مفكورو د باطلولو مركز

جامعة الأزهر-الحى السادس- مدينة نصر

تليفون : ٢٣٨٦٨١١٤ ٢٠٢+

فاكس :٢٣٨٦٨١١٦ ٢٠٢+

بریښنالیک :

بریښنایي سایټ

د تندروومفکورو د باطلولو لړۍ (٧)

د ازهرد فارغانو نړیواله مؤسسه

# په اسلام کې جهاد

# او د هغه حقیقت او د هغه مضبوطونکي قاعدی

ليکوال : د ازهرشريف له علماوو څخه حمدالله حافظ الصفتي

د کتاب وړاندي کونکی: د لويوعلماوو د هيئت غړی او ددغي مؤسسی د رئيس مرستيال

أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي

قضية الولاء والبراء مفهومها ونشأتها

د ولاء او براء موضوع دهغو معنا او د هغو رامنځ ته کيدل

azharcenter4trans@gmail.com
Al-Azhar Conference Center (ACC) Building,
4 Ismail El-Qabbany St., off El-Tayaran St,
Nasr City, Cairo, Arab Republic of Egypt.
http://www.azhar.eg/act

په خارجي پوخ باندي د الازهر شريف د جومات انځور دى چي ختيځ پيژاند پريس داوين په قلم رسم شوى
(1807-1879) prisse d'Avennes
لومړى چاپ: 1438هـ/ 2017م.
د امانت شميره: ١٧٨١٦/ 2017

ISIN:

© No parts of this publication may be reproduced, stored in a retrieval system, or transmitted, in any form or by any means, electronic, mechanical, recording or otherwise, without the prior permission of the publishers.

بسم الله الرحمن الرحيم

# وړاندي کول

## د ازهرشريف د لويوعلماوو د مؤسسي د غړي

## أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي په قلم

لوی شيخ محيي الدين بن عربي له رمزو او بډايي څخه پخپل ډک کتاب (الفتوحات المکية) کې وايي چې رښتيني مسلمان ذات  هغه وخت همداسي نشی کيدای چې د هغه باطني وجداني وده له جګيدو اوپاس ختلو اوهسکيدو څخه ودريږي نو- له جهان او د جهان له خالق او پيداکونکي سره پخپله اړيکه کې – هغه بايد داسي روحاني معراج اوهسکيدل ولري چې په هغه باندي له ټيټ وجداني حال څخه بل داسي ختونکي حال ته وخيژي چې هغه لا لوړاو ښکلي وي، او که داسي نه وي نو په ټپه دريدو او کلکوالي کې به ګرو او ګيرشي، او په خوب کې د ډوبيدو او مړاوي کيدو ښښه به وګرځي!

په دغه روحاني معراج او ختلو سره د انساني ذات بي پايه غولي پراخيږي، نو- له دغه ذات سره- ټول موجودات د ژوند په اکسير او دارو باندي خوځيږي او بيله ژبي خپل خالق ته تراني او تسبيح وايي، او بيله موجوديت څخه سجدي کوي، او وجود يا موجودات د ښا يست او ميني، اوروح او ارامي اوسکونت په سترګو ويني، او پدې باندي د ټول جهان مهار او ولکه د هغه له ليدونکو او نه ليدونکو اړخو سره ترلاسه کوي.

که دغه له احساس نه ډک شفاف او صاف نظر او ليد زموږ په اوسنيو زمانو کې – دغو زمانو کې چې د مادي ارزښتو رنګ يې اخيستی – د اسلام له څيري سره له پاسه او د لاندي ګډ شي نو دا به حق ته په ترږو او امنيت اوعدالت ته په شوقمنو نفسونو کې دننه د سحر او جادو اغيزه ولري، او د زماني د ډيرو ناروغيو او شکايتو دپاره به بلسم او درمل وي، او زړونو او عقلونو ته به لار ومومي، او د تيارو تور تم اوسخت تورتوالی به رڼا کړي!!

که دغه له احساس نه ډک شفاف اوصاف نظر او ليد زموږ پدغو زمانو کې د اسلام له څيري سره ګډ شي: نو ته به له مسلمانانو څخه له داسي خلکو پرته نور څوک ونه مومې چې د هغوی سيني او زړونه له رحم او زړه سوی څخه ډک وي، او په ښه ډول سره عفوه اوتيريدنه کوي، او د بورو

ښځو په زګروو او د کمزورو په دردو دردیږي، او له بدبینیو او پوچو خبرو او تورو کینو څخه پورته کیږي، نو په هرځای کې په انسانانو کې له داسي زړونو پرته نور څه نه ویني چې د حق ښایست ته شوق کوي، او د عدالت په ارزښت باندي په راحت کیږي، او لوړو ارزښتو ته هوس کوي دا بیله دي چې له کرغیړن شدت او بد تورواليي څخه کار واخیستل شي، او بیله دي چې ویني تویي شي، یا سرونه پرې شي، یا بدنونه ټوټې ټوټې شي**!!**

خو له احساس نه ډک دغه شفاف لید او نظر- چې په هغه کې شاعري او حکمت سره ګډیږي- متاسفانه، زموږ په اوسنۍ زمانه کې له ضد څخه د هغه ضد ته بلکه له نقیض څخه د هغه نقیض ته واوښتل ..نو دا لید د هغه بد تصور په برابر کې چیرته دی چې د هغه خاوندانو ته دا خیال پیدا شوی چې اسلام د هغه له عظمت اورحمت او شمول سره دواک د ترلاسه کولو په شهوت کې راغونډ شوی، او د حکومت چوکۍ ته په ټوپ وهلو کې محصورشوي دي، او له دغي ډلي سره اسلام د سیاست په لوبه کې بند شو چې په هغې کې مناوري او لوبې کیږي، او د هغه لوړ افقونه او لوړې موخې باد یوړې**!**

نو دا له احساس نه ډک شفاف اوصاف لید د هغوی تورو ادبیاتو په برابر کې چیرته دی چې د هغه په اساس نړي په غوڅ ډول سره په دوو کیږدیو وویشل شوه: د ایمان هغه کیږدۍ چې هغې ته له دغي ډلي پرته نور څوک نه ننوزي، او د جاهلي کفرهغه کیږ دۍ ده چې د هغه له لري کولو او له هغه څخه له خلاصون نه پرته بله چاره نشته، بیا د هغو خاوندان- د سیاست د لوبي په اساس – په وطن کې ورانکاري کوي ویني تویوي او بدنونه ټوټه ټوټه کوي، دا وروسته له دي چې د اسلامي امت غولیدلي ځوانان یې د دښمني اور او د بغض او بدبیني دوزخ ته وروستل، بیایي پریښودل د حکومت کولو په شهوت کې درغبت، او دواک چوکیو ته د شوق په اساس، او د سلطنت په چوکیو باندي د کینستلو په موخه د شدت د کارو اور او دورانکاریو د اور لمبي لا پورته کړي، لکه چې له ټول اسلام – روحیي ارزښتو او مبادیو- څخه له داسي واک اوقدرت پرته چې ښکار کیږي او له داسي حکومت پرته چې د هغه ګدۍ ته ورختل کیږي او له داسي سلطنت پرته بل څه شی ندی پاته چې د هغه په لار کې سرونه بي ارزښته کیږي، او ویني ارزانه کیږي**!**

دغه له احساسه ډک شفاف اوصاف لید او نظر د هغو کسانو په برابر کې چیرته دی چې ځانونه په سلفیانو پوري موښي او ادعاء کوي چې د سلفي توب وارثان دي بیا هغه د هغې سرسختي اوغلظت او یوي رأیي درواغجنه پرده ګرځوي چې د هغوی طبیعت ګرځیدلی دی، تردي چې په هغو وار د شووشکلو، او وچو نښو کې یې د مسلمانانو پاملرنه ورواړوله چې داسي سوری شوی وریي خلاص کړ چې – بیا وروسته - په هغه باندي له هري خوا څخه د ترهګري دعواګانو په هغه باندي اتکاء اوتکیه وکړه، او له هغه څخه زما مقصد هغه څه دی چې د هغوی مروجو ادبیاتو کې (له ممانعت کونکي طائفی سره جنګ کول) ویل کیږي، چې هغه کابو د شر د سپکو الوتونکي سکروټه ده، چې هغه پخوا اوس د شدت د کارونو د ډیرو ډلوعقیدوي اساس ګرځیدلی دی.

دغه له احساسه ډک صاف نظر او لید ددغو ترهګرو مؤسسو په برابر کې چیرته دی چې کرکجن نومونه لري او زموږ پدغي زمانه کې راپورته شوي او د اسلام او داسلام د خلافت په نامه په درواغو او بهتان سره ناري وهي، بیا د هغو داعیان د نړۍ په مخکي په ځمکه کې وژل او دمړو بدرنګه کول او دسرو پری کول او دغاړو قطع کول بیله دي سرته رسوي چې د هغوی سترګي وریپیږي، او یا یې زړونه ورته ودربیږي، بلکه بیله دي چې د هغوي په سرسختو ځانو باندي د هغه جرم اندازه ښکاره شي چې هغوی د اسلام په حق کې کړي دي دا هغه وخت چې د اسلام څیره دوینو او دمړو د ټوټو، او سرونو اوغاړو له څیرو سره مل شي، بلکه دا هغه وخت چې د هغوی ددغه کار د تاثیر او اغیزي له کبله اسلام د ډیرو په نظر کې- په داسي وباء باندي بدل شوی چې په ټول جهان باندي یې چپاو کړي دي . او هغه ذهني څیره به څنګه وي چې د نړۍ د ماشومانو په حافظه کې له هغه اسلام څخه چاپ شوي چې هغوی د هغه د جنډي د پورته کولو او د هغه د کلمي د اوچتولو ادعاء کوي ؟

بیا دغه او هغه کسان دیته پام نه کوي چې هلته بیل لوري ته یو اسلامي روحاني جهاد شته چې ښایي بشریت یې د روح اوعقل او وجدان له لحاظه لوړو او هسکو افقو ته ورهسک کړي، او انسانیت دیته راوهڅوي چې خپلو وږو او لوڅو او ناروغو زامنو ته ډوډۍ او دواء او هغه څه برابر کړي چې د هغوی ژوند پري ودریږي او په هغه باندي له هغه فردي ورانونکي

انانيت څخه خلاصون وومي چې له مادي نفعي مدنيت څخه رامنځ ته شوي دي؟

ګوندي موږ به پدغي علمي لړۍ کې هڅه وکړو چې حق خپل ځای ته راوګرځوو او هغه شبهي اوغلطي ګاني لري کړو چې دغي ډلي په اسلام پوري سريښ کړي دي ترڅو نويو ځوانانو ته د اسلام حقيقت او هغه څه وروښيو چې ښايي هغوی د خپل رب د رضايت او د خپل نبي صلی الله عليه وسلم د پيروي په لار کې په هغه باندي پابندوي.

او له الله څخه توفيق او قبليدل غواړو، او هغه داسي ښه اوستر ذات دی چې له هغه څخه غوښتنه اوهيله کيږي.

## بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

دکرکې او بدبيني وينا نشي کولی چې داسي انساني ټولنه رامنځ ته کړي چې په هغې کې زړه سوی او يو په بل باندي رحم کول وچليږي، او دا محاله ده چې رسول صلی الله عليه وسلم چې د هغه رب هغه عالميانو ته د رحمت په ډول استولی دی بدبيني او کرکې او دښمني ته بلونکی وي . او قرآن کريم پدې آيت کې **«وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ»(دانبياءسورت/١٠٧)** **ژباړه: موږ ته د عالميانو دپاره له رحمت نه پرته دبل څه دپاره نه يې استولی.**

دا خبره په څرګند او جوت ډول سره اعلان کړي ده، او له دي څخه يې څوک ندي مستثنی کړی نو هغه له انسانانو او پيريانو او ژوو او مرغانو او نورو څخه دټولو مخلوقاتو دپاره رحمت دی، له دي امله د اسلام رسالت او دنده نړيواله وه، او زموږ رب هغه ته وينا کړي او ويلي يې دي **:« وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ (٨٨) فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَامٌ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ» (الزخرف/٨٨-٨٩). ژباړه: د محمد صلی الله عليه وسلم دا خبره چې په هغې کې يې وويل اې زما ربه زما دغه قوم ايمان نه راوړي نو الله تعالی هغه ته وويل چې له هغو څخه مخ واړوه او ووايه چې له تاسي څخه دي سلام وي نو هغوی به بيا په سزا باندي پوه شي.**

نو سره له دي چې هغوی ايمان نه راوړي په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي امر شوي چې له هغو څخه مخ واړوي او ښه خبره وکړي .

او موږ به پدې کتاب کې اول د مخالفي رأيي او د هغې د دليلو په وړاندي کولو سره دعلم د خاوندانو په طريقه باندي ولاړشو، بيا به ان شاء الله د هغې جواب ورکړو، او دا د مفهومو په سمولو کې د مصطفی صلی الله عليه وسلم طريقه ده، نو هغه به اول له صحابه و رضوان الله عليهم څخه د اصطلاح د مفهوم د معلومولو دپاره پوښتنه کوله ،بيا به يې هغه صحيح کاوو.

او ددي له مثالو څخه صحابه و ته د نبي صلی الله عليه وسلم دا خبره ده: **«أتدرون من المفلس ؟ قالوا :المفلس من لادرهم له ولادينار ولا متاع، فقال**

: ان المفلس من أمتي من يأتي يوم القيامة بصلاة وصيام وزكاة، ويأتي وقدشتم هذا وأكل مال هذا وسفک دم هذا وضرب هذا فيعطى هذا من حسناته وهذا من حسناته فان فنيت حسناته قبل ان يقضى ما عليه أخذ من خطاياهم فطرحت عليه ثم طرح في النار»[1] ژباړه: آيا تاسي پوهيږئ چې مفلس څوک دی ؟ هغوی وويل : مفلس هغه څوک دی چې نه درهم او نه دينار او نه مال او متاع لري، نو نبي صلى الله عليه وسلم وويل: چې زما له امت څخه مفلس هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ په داسي حال کي له لما نځه او روژې او زکات سره راشي چې دغه ته يې کنځا کړي، او ددغه مال يې خوړلی ،او ددغهويني يې تويي کړي، او دغه يې وهلی دی، نو دغه ته د هغه له نيکيو څخه ورکړل شي، او دغه ته د هغه له نيکيو څخه ورکړل شي، نو که د هغه نيکي مخکي له دي خلاصي شوي چې هغه څه ورکړي چې په هغه باندي دي، د هغوی له ګناوو څخه رااخيستل کيږي او په هغه باندي اچول کيږي او بيا په اور او دوزخ کې اچول کيږي .

[1] _ مسلم پخپل صحيح کي کتاب البر والصلة باب تحريم الظلم کي روايت کړي دي.

## ١ - د الولاء او البراء مفهوم اومعنا د هغه چا په نظر چې په هغه باندي قايل دي[٢]

ولاء: له الله او د هغه له رسول او صحابه وو او موحدو مؤمنانو سره مینه او له هغوی سره نصرت او مرسته کول دي .

براء: له کافرانو او مشرکانو او منافقانو او بدعت کونکو او فاسقانو څخه له هغه چا سره کرکه او دښمني کول دي چې د الله او د هغه له رسول اوصحابه و او موحدو مؤمنانو سره مخالفت وکړي .

## د هغوی په نظر د ولاء او براء مرتبه :

په شریعت کې د الولاء البراء د عقیدي مرتبه ستره ده، او هغه د ایمان له رکنو څخه یو رکن دی، او ددغي مرتبي له عظمت او لوی والي څخه دا دي:

**لومړی:** هغه د شهادت د کلمي د معنا یوه برخه ده، او هغه له (لا اله الا الله – یعنی له الله پرته اله او معبود نشته -) څخه د (لا اله) د خبري معنا له الله څخه پرته له ټولو معبودانو څخه براءت او کرکه ده .

**دوم:**هغه په ایمان کې یو شرط دی، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي **« تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ (٨٠) وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ»(المائدة/٨٠-٨١) ژباړه: ته اې پیغمبره له هغوی څخه ډیر خلک ویني چې د کافرانو ملګرتیا او دوستي کوي، هغوی ته د هغوی نفسونو بدکار وړاندي کړي دي، هغه دا چې الله په هغوی باندي غصه شوی او هغو په عذاب کې تل پاته دي، او که هغوی په الله او نبي او هغه څه ایمان راوړی وای چې په هغه باندي**

---

[٢]ـ دا د خوارجو پخوانئ رأیه ده چې په هغو پسي ابن تیمیة، او محمد بن عبدالوهاب اوعبدالعزیز بن باز اوصالح العثیمین، او سالم القحطاني، تللی دی، او پدې کې دي د ابن تیمیة مجموع فتاوي، او دابن العثیمین مجموع فتاوی، او د ابن باز فتاوی ته مراجعه وشي.

**نازل شوي نو هغوی به کافران خپل دوستان نه وای نیولي، خو له هغوی څخه ډیر فاسقان او له ایمان څخه وتلي دي .**

**دریم:** دا عقیده له دي کبله د ایمان ډیره کلکه غوټه ده، لکه چې احمد پخپل مسند کې له البراء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:**«أوثق عری الایمان الحب فی الله والبغض فی الله » ژباړه: د ایمان ډیره کلکه غوټه په الله کې مینه او په الله کې دښمني ده .**

او په صحیح حدیث کې راغلي:**«من أحب لله وأبغض لله ،وأعطی لله ومنع لله ، فقداستکمل الا یمان » (ابوداودراوړی دی) ژباړه: څوک چې د الله دپاره مینه وکړي ، او د الله دپاره بدبیني او دښمني وکړي او د الله دپاره ورکړه وکړي، او د الله دپاره ورکړه مني کړي نو هغه خپل ایمان بشپړ کړ.**

**څلورم:** او هغه د ایمان د خوږوالي او د یقین د لذت د څکلو سبب دی، ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :**«ثلاث من وجدهن وجد حلاوة الایمان أن یکون الله ورسوله أحب الیه مما سوا هما ، وأن یحب المرء لایحبه الا لله ، وأن یکره أن یرجع الی الکفر بعد أن انقذه الله منه کما یکره أن یقذف في النار» (متفق علیه) ژباړه: دری شیان چې څوک ومومي د ایمان خوند اوخوږوالی مومي دا چې الله او د هغه رسول په هغه باندي له هغوی دواړونه پرته شیانو څخه ډیر ګران وي، او دا چې سړی مینه وکړي او دا مینه له الله پرته د بل چا دپاره نه کوي، او دا چه دایي داسي بد وایسي چې کفر ته وروسته له دي وروګرځي چې الله له هغه څخه وژغوارو لکه چې دایي بد ایسي چې په اورکې وغورځول شي .**

**پنځم:** هغه داسي رابطه او اړیکه ده چې مسلمانه ټولنه د هغې په بنسټ ولاړه ده **(انما المؤمنون اخوة ) بیشکه مؤمنان سره وروڼه دي .**

**شپږم:** ددغي عقیدي په ترسره کولو سره د الله ولایت او دوستي ترلاسه کیږي، ځکه چې ابن عباس رضی الله عنهما روایت کړی چې ویلي یې دي: **«من أحب فی الله وأبغض في الله ،ووالی فی الله ،وعادی فی الله ،فانما تنال ولایة الله بذلک» ژباړه: څوک چې په الله کې مینه وکړي او په الله کې**

**کرکه او بد بیني وکړي، او په الله کې دوستي وکړي او په الله کې دښمني وکړي، نو پدې باندي د الله دوستي او پالنه ترلاسه کيږي .**

**اوم:** ددغي عقيدي نه پوره کيدل به ګوندي په کفر کې ننه باسي، لوی خدای فرمايلي دي:**«ومن يتولهم منكم فانه منهم». ژباړه: له تاسي څخه چې څوک دهغوی دوستي کوي نو هغه له هغوی څخه دی .**

**اتم:** په قرآن او حديثو کې د هغې ډير راتلل د هغې په اهميت دلالت کوي .

## د هغوی د شيخانو اوعلماوو له خبرو او قولو څخه

شيخ حمد بن عتيق رحمة الله عليه وايي:(اما د کفارو او مشرکانو د دښمني په اړه پوه شه چې پاک او لوی الله هغه واجبه کړي ده، او د هغې په واجبولو يې ټينګار کړي دي، او د هغوی پلوي توب او دوستي يې حرامه کړي او په هغې يې پخلی او ټينګار کړي دي، ترڈي چې د الله تعالی په کتاب کې د توحيد د واجبيدو او د هغه د ضد د حرامولو له حکم نه وروسته له دغه حکم څخه بل داسي حکم نشته چې په هغه کې ډير واضح او بيان شوي ډير دليلونه راغلي دي ) او شيخ الاسلام ابن تيمية ويلي دي: (د لا اله الا الله د شهادت د کلمي ترسره کيدل ددي غوښتنه کوي چې له الله پرته له بل چا سره مينه ونه شي، او له الله پرته بل څوک بد ونه ايسيدل شي، او له الله پرته دبل چا دپاره محبت ونه شي او له الله پرته دبل چا دپاره دښمني ونه شي، او هغه څه خوښ شي چې الله يې خوښوي او هغه څه بدو ايسيدل شي چې د الله بدايسي) او دايي هم ويلي: څوک چې دا عقيده ولري چې کليسا ګاني د الله کورونه دي، او په هغو کې د الله عبادت کيږي، او هغه څه د الله عبادت او د هغه او د هغه د رسول طاعت دی چې يهود او نصاريي کوي ،او الله دا خوښوي يا پري راضي دی يا يې له هغوی سره دکليساګانو په پرانستلو او د خپل دين په قايمولو کې مرسته کړي، او د اطاعت يا قربت دی نوهغه کافر دی) او په يوه بل ځای کې يې هم ويلي دي: (څوک چې دا عقيده ولري چې ذميانو ته د هغوی کليساګانو ته ورتګ الله ته قربت اوطاعت دی نوهغه مرتد دی).

**د هغوی په رأیه د کفارو د ملګرتیا او دوستي له شکلو څخه دادي :**

١- له هغوی سره په جامو او خبرو کې مشابهت او ورته والی .

٢- د هغوی په هیواد کې استوګنه، او له دین سره د تینښتي دپاره د هغوی له هیواد څخه د مسلمانانو هیواد ته نه تلل .

٣- د هغوی هیواد ته د تفریح اوساعت تیري دپاره مسافرت کول .

۴- له هغوی څخه د درباري خاصو ملګرو او مشاورانو او سلاکارانو نیول .

۵- د هغوی په تاریخ او کلیزه باندي د تاریخ اوکلیزي په تیره بیا د هغه تاریخ نیول چې د هغوی له دیني اجراءاتو او اخترو څخه تعبیر کوي لکه عیسوي یا میلادي تاریخ.

۶- په ځانو باندي د هغوی د نومونو اینښودل .

٧- د هغوی په اخترو کې ګډون کول یا د هغو د اخترو په جوړولو کې له هغوی سره مرسته کول یا ددغو اخترو په مناسبت هغوی ته د مبارکي ورکول یا د اخترو په جوړولو کې ګډون کول .

٨- د هغو صفت کول او د هغوی د مدنیت او تمدن ستایل، او د هغوی د اخلاقو او مهارتو خوښول بیله دي چې د هغوی باطلوعقیدو او د هغوی فاسد دین ته وکتل شي .

٩- هغوی ته د مغفرت او ښښني غوښتل او په هغوی باندي د رحمت کولوغوښتل .

## له قرآن کریم څخه د هغوی دلیلونه :

لوی خدای فرمایلي دی :

**١- «قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا»(الممتحنة/۴) ژباړه: تاسي ته په ابراهیم او هغو کسانو کې چې له هغه سره مل وو ښه پیشوا او مقتدا وو کله چې هغوی خپل قوم ته وویل چې موږله تاسي اوله هغه څه څخه بیزاره یوچه بي له الله څخه دهغه عبادت کوئ موږ له تاسي څخه انکار وکړ او زموږ او تاسي ترمنځ دتل دپاره دښمني او بدبیني ښکاره شوه.**

**٢-«وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ»(التوبة/۳) ژباړه: خلکوته د لوی اختر(دقرباني) په ورځ له الله او د هغه له رسول څخه دا خبرول او اعلام دی چې الله او د هغه رسول له مشرکانو څخه بریء او بیزاره دي .**

**٣-«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (٥١) فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ»(المائدة/۵١-۵٢) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي یهود او نصارا ملګري او دوستان مه نیسئ هغوی یو دبل دوستان او ملګري دي او له تاسي څخه چې څوک له هغو سره دوستي کوي نو هغه له هغوی څخه دی بیشکه چې الله ظالمو خلکو ته هدایت نه کوي نو ته هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې دعقیدي مرض او کمزوري ده ویني چې د هغوی دوستي ته وردانګي او وایي چې موږ داریږو چې موږ به په بلا اخته شو نو الله وایي ګوندي الله به خپل نبي ته فتح او نصرت راولي او یا به د الله له خوا د منافقانو رسواکونکی کارد راشي نو په هغه څه به پښیمانه شي چې هغوی له خپلو ځانو سره پټ کړی وو.**

**۴-«یا أیها الذین آمنوا لا تتخذوا عدوي وعدوکم أولیاء تلقون الیهم با لمودةيَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم**

بِالْمَوَدَّةِ»(الممتحنة/۱) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي زما دښمن او ستاسي دښمن داسي دوستان مه نيسئ چې له هغوی سره په محبت کوئ .

۵-« لَّا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَن تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ...»(آل عمران/۲۸) ژباړه: مؤمنان دي بيله مؤمنانو څخه کافران دوستان او ملګري نه نيسي او څوک چې داکار کوي نو هغه د الله له دين څخه په څه شي کې ندي پرته له دي چې له هغو څخه تاسي خپل ځانونه وساتئ او پخپله الله تاسي له دي څخه ډاروي چې که تاسي له هغوی سره دوستي وکړه په تاسي به غضب وکړي .

۶-«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ ...»(آل عمران /۱۱۸) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي له نورو څخه (يهودو او نصارا وو او منافقانو څخه ) خاص ملګري مه نيسئ هغوی تاسي ته په فساد کې سپما او کوتايي نه کوي، دا خوښوي چې تاسي له سخت ضرر څخه وګالئ، تاسي ته د هغوی له خولو څخه بدبيني او دښمني ښکاره شوه او هغه څه چې د هغوی سيني يې پټوی له دي څخه غټ اولوی دی.

۷- «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ»(التوبة/۲۳) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي خپل پلرونه او ورونه دوستان مه نيسئ که هغو په ايمان باندي کفر خوښ کړ او له تاسي څخه چې څوک د هغوی ملتيا او دوستي وکړي نو هغه ظالمان دي .

او دا جوته او څرګنده ده چې دا نهيه مقيده ده او مطلقه نده.

۸-«لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»(المجادلة/۲۲) ژباړه: ته به داسي خلک چې په الله او د آخرت په ورځ يې ايمان راوړی وي ونه مومي چې له هغه چا سره دوستي کوي

**چې له الله او د هغه له رسول سره مخالفت کوي اګر که دغه مخالفت کونکي د هغوی پلرونه یا د هغوی زامن یا د هغوی وروڼه یا د هغوی کورنۍ وي لوی خدای ددغو خلکو په زړونو کې ایمان ثابت کړ او پخپل نور باندي یې د هغوی تأیید وکړ او پداسي جنتو کې یې ننه باسي چې ترهغو لاندي سندونه بهیږي او په هغو کې به تل پاته وي، الله له هغو څخه راضي دی او هغوی له الله څخه راضي دي دغه خلک د الله حزب او ګوند دی، پدې خبر اوسئ چې د الله حزب بریالی دی .**

او د سترګو لرونکو ته څرګنده او جوته ده چې نهیه له الله او د هغه له رسول سره په مخالفت او دښمني باندي مقیده ده، او په مطلق ډول نهیه نده .

## یوه عجیبه رأیه :

دغو کسانو دولاء اوبراء او د هیوادوالي ترمنځ فرق کړي دي، نو هیوادوالي یو ډول دنیاوي چال چلند دی، اما له الولاء او البراء څخه مراد د الله له دوستانو سره مینه او د الله له دښمنانو سره دښمني او بد ایسیدل دي، نو ته له هغو سره په دنیایي وطنوالي سره وطنوالي کوي، خو ته له هغو سره په زړه کې مینه نلري، بلکه هغه دي بدایسي، او دا ددي مانع کیږي نه چې ته له هغو سره په نیک ډول چال چلند وکړي، لکه چې لوی خدای فرمایلي دي:
**«وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ» (المائدة/۸) ژباړه: کفاروته دي ستاسي بد بیني اوبغض تاسي دیته نه راپوري وهي چې تاسي عدالت ونکړئ عدالت وکړئ هغه تقوا او پرهیزګاري ته نژدي دی .**

**تبصره یا نښلونه:** د تیرو دلیلو له وړاندي کولو څخه دا واضح او جوت دي چې په متنو باندي بې له دي چې له قرآن کریم او همداراز مبارکو حدیثو څخه د هغو په شان نورو متنوته وګوري دلیل راوړي، او دا په مبارک متن باندي له بدو پوهیدو څخه دی، همدارنګه دا ښکاره کیږي چې هغوی په دین کې داسي بدعتونه رامنځ ته کوي چې سلفو او پخوانو علماوو هغه ندي ویلي، او دا کار هغوی هغه چا ته کافر ویلو ته راپوري وهي چې د هغوی په فاسده عقیده ایمان نلري، او دا پخپله مسلمانانو ته او ټولو انسانانو ته زیات خطر تشکیلوي

## په موضوع باندي سم پوهيدل :

**لومړی:** له سلف صالحو يا پخوانو نيکوعلماوو څخه او له څلورو امامانو څخه چا ولاء او براء د ايمان له رکنو او د اسلام له رکنو څخه ندي بللي، او د اسلامي امت اکثروعلماوو پدې اتفاق کړي دي چې د ايمان او اسلام رکنونه هغه دي چې له عمربن الخطاب رضی الله عنه څخه په صحيح حديث کې راغلي چې ويي ويل : **«بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم اذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب شديد سواد الشعرلايرى عليه أثر السفر ولايعرفه منا أحد حتى جلس الى النبي صلى الله عليه وسلم فأسند ركبتيه الى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه وقال:يا محمد أخبرني عن الاسلام؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«الاسلام آن تشهد أن لا اله الا الله وأن محمدا رسول الله ،وتقيم الصلاة ،وتؤتي الزكاة،وتصوم رمضان ،وتحج البيت ان استطعت اليه سبيلا ،قال صدقت .فعجبنا له يسأله ويصدقه ،قال فأخبرني عن الايمان؟ قال :أن تؤمن با لله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر،وتؤمن با لقدرخيره وشره قال :صدقت قال :فأخبرني عن الاحسان ؟ قال:أن تعبدالله كأنک تراه فان لم تكن تراه فانه يراک قال :فأخبرني عن الساعة ؟قال :ما المسئول عنها بأعلم من السائل قال:فآخبرني عن أماراتها ؟قال: أن تلد الأمة ربتها ،وأن ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء يتطاولون فى البنيان ، ثم انطلق فلبثت مليا ثم قال :يا عمرأتدري من السائل ؟قلت الله ورسوله أعلم .قال:فانه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم»[۳] ژباړه: پداسي حال کې چې موږ يوه ورځ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو يو داسي سړی چې جامي يې تکي سپيني او ويښتان يې تک تور وو موږ ته راغی په هغه باندي د سفر نښې نه ليدل کيدي او له موږ څخه چا نه پيژاند ترڅو نبي صلى الله عليه وسلم ته کيناست نو خپلي د ځنګانه سترګی يې د هغه د ځنګانه سترګيو ته تکيه کړي، او خپل دواړه لاسونه يې د هغه په ورنو باندي کيښنودل او ويي ويل: اې محمده ته ما له اسلام څخه خبرکړه؟، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: اسلام دا دی چې ته ددي شاهدي ورکړي چې له الله پرته اله نشته او محمد د الله رسول دی، او لمونځ اداء کړي، او زکات ورکړي، او د رمضان د مياشتي روژي ونيسي، او بيت الله ته حج وکړي که دي هغه ته**

[۳]ـ [مسلم پخپل صحيح کي د الايمان په کتاب کي د اسلام او ايمان د بيانولو په باب کي روايت کړي دي]

**د تلو وس درلود، هغه وویل چې رښتیا دي وویل، نو موږ تعجب وکړ چې له هغه څخه پوښتنه کوي او د هغه تصدیق کوي، ویي ویل چې ته ما له ایمان څخه خبرکړه؟ ویي ویل: ایمان دا دی چې په الله او د هغه په ملائکو او د هغه په کتابو او د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ باندي ایمان راوړي، او په قدر باندي د هغه په خیر او د هغه په شر باندي یمان راوړي ویي ویل: رښتیا دي وویل، او ویي ویل: چې ما له احسان څخه خبرکړه ؟ ویي ویل: چې احسان دا دی چې د الله داسي عبادت وکړي لکه چې ته یې ویني نو که یې ته نه ویني نوهغه تا ویني، ویي ویل: نو ته ما له قیامت څخه خبرکړه؟ ویي ویل چې له هغه څخه پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ښه علم نلري ،ویي ویل: نو ته ما د هغه له نښنو څخه خبرکړه؟ ویي ویل : دا چې مینځه خپله با داره وزیږوي، او پښي لوڅي بربنډ نیستمن او د میږو پوونکي ووینې چې په دانګوو دانیو کې دانګیږي، بیا ولاړ نو ما ښه درنګ وکړ بیا یي وویل: اې عمره آیا ته پوهیږي چې پوښتونکی څوک وو؟ ما وویل چې الله او د هغه رسول ښه پوهیږي ،ویي ویل: دا جبریل وو راغی چې تاسي ته ستاسي دین دروښیي.**

او دا حدیث د اسلام او ایمان د ارکانو په ټاکلو کې واضح اوڅرګند دی .

أبوالحسن أشعري ویلي دي: ایمان په زړه باندي تصدیق دی، او په ژبه باندي خبري او د رکنو عملي کول د ایمان څانګي او فروع دي، نو څوک چې په زړه باندي تصدیق وکړي، یعني د الله تعالی په وحدانیت اقرار وکړي، او په رسولانو باندي د هغه څه د تصدیقولو په ډول اقرار وکړي چې هغوی د الله لخوا راوړي دي د هغه ایمان صحیح شو، تر دی چې که سمد ستي مړشو هغه نجات مو ندونکی مؤمن دی، او له د غوشیانو نه د یوه شي له منکریدو پرته له ایمان څخه نه وزي[٤] او الباقلاني ویلي دي: او دا چې پدې پوه وي چې په الله عزوجل باندي ایمان په زړه باندي تصدیق دی[٥] ،نو د توحید په علم کې داسي شی نشته چې د الولاء والبراء د عقیدي په نامه یادشي، نو هغه د زړه له هغو کارو څخه دي چې د ایمان د عقیدي له آثارو څخه دي، او د الولاء درویي نښه نصرت او تأیید دی، او د البراء درویی مظهر او نښه دښمني او د ملاتړي نه کول دي، او د الولاء والبراء مظاهر

[٤] _ [د شهرستاني الملل والنحل ١٠١مخ].
[٥] _ [الانصاف للباقلاني ٣٣].

او نښي په اساسي توګه د زړه له هغو کارو څخه دي چې هغه د ایمان د عقیدي له پایلو څخه دي، نو هغه مؤمن چې په الله او د هغه په ملائکو او د هغه په کتابو او د هغه په رسولانو باندي او د آخرت په ورځ او په قدر باندي د هغه په خیر او د هغه په شر ایمان راوړي، دغه ایمان د هغه په زړه کې په حق باندي له ټولو مؤمنانو سره مینه پلوي توب ملاتړي او مرسته رامنځ ته کوي، همداراز د هغه په زړه کې له ټولو هغو عقیدو او مفکورو څخه براءت او بیزاري پیدا کوي چې له هغه څه سره مخالفي وي چې په هغه باندي ایمان لري .

او د ولاء د رويي مظهراو نښه کمک او تأیید دی، او د براء د رويي مظهر او نښه دښمني او د ملاتړي نه کول دي، او دولاء او براء نښي هغه وخت جوتیږي چې هغه ځوک چې ستا په عقیده او ایمان او هویت باندي کافروي فیصله وکړي چې په تا باندي ظلم وکړي او ستا له وطن سره جنګ وکړي، نو ولاء دا غواړي چې د خپل وطن او خپل قوم او خپل هویت له څنګ سره ودریږي، او له هغه دښمن څخه براءت او بیزاري وکړي چې غواړي ستا هویت او ستا امنیت او ستا وطن ړنګ کړي .

له دي امله ولاء او براء باید له نا مسلمان سره د مسلمان د ګډ ژوند په نظا م کې تل راوغوښتل شي، نو مسلمان ته ښایي چې اسلام ته منسوب وي اوخپل اسلامي هویت وساتي بیله دي چې د خلکو ترمنځ د ګډ ژوند مبدأ ته ډکه ورسیږي، او دغه ولاء او براء ده او هغه دا چې مسلمان خپله عقیده له داسي شبهو څخه وساتي چې ګوندي له هغې سره به ګډي شي  بیله دي چې مسلمان ته په کافر ویلو کې ورننوزي یا په خوندي نفس باندي تیری وکړي.

له هیوادوالو او نورو هغو کسانو څخه چې له مسلمانانو سره د جنګ په حالت کې نه وي له نامسلمانو سره د دوستي او ملګرتیا نه کول له هغوی سره د شخصي دښمني او هغوی ته د اذیت رسولو په معنا د قرآن او حدیثو له څرګندو متنوسره مخالفت لري، نو په مسلمان باندي أمرشوی چې ټولو خلکو ته بیله توپیر څخه ښي خبري وکړي، لوی خدای فرمایلي دي:**«قولوا للناس حسنا»(البقرة/۸۳) ژباړه: تاسي خلکو ته ښي خبري وکړی.**

او لوی خدای فرمایلي دي:**«انّ الله یأمر بالعدل والاحسان» (النحل/۹۰) ژباړه: الله تعالی د عدل او نیکي کولو امرکوي.**

همداراز الله موږ له نامسلمانو سره دنيکي له کولو او له دي څخه نه يومني کړي چې له هغو سره تماس ولرو او هغوی ته سوغات ورکړو او له هغوی څخه سوغات ومنو او له هغوی سره دنيکي داسي نور شکلونه ولرو، لوی خدای فرمايلي دي:**« لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ»(الممتحنة/٨) ژباړه: الله تاسي له دي څخه نه مني کوي چې له هغو کسانو سره نيکي وکړئ او له هغوی سره عدالت وکړئ چې له تاسي سره يې په دين کې جنګ نه ندې کړی او تاسي يې له خپلو کورو څخه نه ياست ايستلي بيشکه عدالت کونکي د الله خوښيږي .**

او ستونزه د هغه چا سره چې ځانو ته سلفيان وايي د ايمان ددي تعريف له کبله ده: هغه په زړه باندي تصديق او په ژبه باندي خبري او په غړو او رکنو باندي عمل کول دي او ايمان په طاعت باندي زياتيږي او په ګناه باندي کميږي لوی خدای فرمايلي دي: **«ويزداد الذين آمنوا ايمانا ...» او د هغو کسانو ايمان زياتيږي چې ايمان يي راوړي دي**، له دي کبله هغوی هر ګناهګار ته کافر وايي، او د هغوی اصل خوارج دي .

**دوم: پدغي عقيده کې د دوو اساسي ايتو او نورو آيتو سم پوهيدل :**

١- دالله تعالى دا قول **:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُم مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ...»(الممتحنة/١) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي زما دښمن او ستاسي دښمن (د مکي کفار) دوستان او ملګري مه نيسئ هغوی ته د مکي د فتح کولو په اړه د نبي صلى الله عليه وسلم قصد په مينه رسوئ او حال دا چې هغوی په هغه حق باندي کافران دي چې تاسي ته راغلی دی او رسول او تاسي له دي امله باسي چې تاسي پخپل رب الله باندي ايمان راوړی دی .**

ددي آيت په پوهيدو کې بايد دآيت د نازليدو له سبب څخه لارښونه وشي، نو دا آيت په صحابي حاطب بن أبي بلتعة کې نازل شوي دي، چې هغه په مکه کې دښمنانو ته په پټه توګه ليک وليکو په هغه کې يې پدې باندي خبرول

چې رسول صلی الله علیه وسلم له هغوی سره جنګ ته تیاري نیسي، او الله تعالی د هغه دا کار رسول صلی الله علیه وسلم ته ښکاره کړ او هغه ښځه ونیول شوه چې دغه لیک یې په مکه کې د رسول صلی الله علیه وسلم دښمنانو او د اسلامي دولت دښمنانو ته وروړ، نو دا آیت نازل شو چې د دوستانو په ډول د دښمنانو نیول حراموي، او دا یو طبیعي کار دی چې څوک په هغه باندې اعتراض نشي کولی، ځکه چې هغه له بشري طبیعت سره او په ټولو ولسو کې آن زموږ په زمانه کې یو له بل سره د خلکو له طبیعي اړیکو سره اتفاق لري، نو هغه څوک چې د جنګ په وخت کې له دښمن سره دوستي وکړي او جنګي رازونه هغه ته ورکړي ستر جرم کوي.
او د داسې سمو پوهیدلو دپاره چې د نازلیدو سبب نه لري کوي او نه حدیث او نه په تنزیل یا قرآن کې نور متنونه نه لري کوي، د نازلیدو هغه سبب چې موږ لنډ او خلص کړ د تفسیر د امامانو په ټولو کتابو او د حدیثو په کتابو کې راغلی دی[٦]

**دوم آیت: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (٥١) فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ »(المائدة/٥١-٥٢) ژباړه: اې مؤمنانو تاسې یهود او نصارا ملګري او دوستان مه نیسئ هغوی یو دبل دوستان او ملګري دي او له تاسې څخه چې څوک له هغوی سره دوستي کوي نو هغه له هغوی څخه دی بیشکه چې الله ظالمو خلکو ته هدایت نه کوي، نو ته هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې د عقیدې مرض او کمزوري ده ویني چې د هغوی دوستي ته وردانګي او وایي چې موږ ډاریږو چې موږ به په بلا اخته شو نو الله وایي ګوندې الله به خپل نبي ته فتح او نصرت راولي او یا به د الله له خوا د منافقانو رسواکونکی کار راشي نو په هغه څه به پښیمانه شي چې هغوی له خپلو ځانوسره پټ کړي وو.**

٦_ [ د نازلیدو په سبب کې دي بخاری ٣٠٠٧ او مسلم ٢٤٩٤ او أبو داود ٢٦٥٠ او ترمذي ٣٣٠٥ او نسائي ١١٥٢١ او احمد په مسند کې ٦٠٠ او د واحدي أسباب النزول ٤٤٨-٤٤٩ او د قرطبي تفسیر ٣٩٦/٢٠ وکتل شي.].

دا آیتونه په أبولبابه کې دی او السدي ویلي دي: دا آیتونه د أحد په ورځ هغه وخت نازل شول چې مسلمانان وډارشول تردي چې له هغو څخه ځیني خلکو ددي قصد وکړ چې له یهودو او نصارا سره ملتیا او دوستي وکړي، او ویل شوي چې په عبادة بن الصامت اوعبدالله بن أبی بن سلول کې نازل شول نوعبادة د یهودو له دوستي څخه لاس واخیست او ابن أبی په هغې باندي کلک ودریدو او ویې ویل: زه ډاریږم چې په مابانديي به بدحال او بلا راشي[٧] او له دي څخه دا ښکاره کیږي چې دا آیتونه په جنګ کې نازل شوي دي، او دا بدیهي کار دی چې په جنګو کې له دښمنانو څخه مرسته غوښتل او د هغوی ملتیا او دوستي روا نده، او پدې کې دي موږ ته پدې خبره دلیل نه راوړل کیږي چې د لفظ عمومي توب معتبر دی نه د سبب خصوصي توب، ځکه چې موږ د آیت په معنا کې وایو چې د جنګ په وخت کې د دښمنانو دوستي نده روا، دا د هغو آیتو له کبله چې وروسته به راشي او ددي غوښتنه کوي چې تر هغو پوري چې زموږ او د هغوی ترمنځ جنګ نه وي له هغوی سره نیکي اوعدل وکړو.

**دریم آیت :« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ..»( آل عمران /١١٨) ژباړه: اې مؤمنانو تاسي له نورو (یهودو او نصاراوو اومنافقانو) څخه خاص ملګري مه نیسئ هغوی تاسي ته په فساد کې سپما او کوتا یې نه کوي، او دا خوښوي چې تاسي له سخت ضرر څخه وګالئ، تاسي ته د هغوی له خولو څخه بدبیني او دښمني ښکاره شوه، او هغه څه چې د هغوی سیني یې پټوي له دي څخه غټ اولوی دي.**

پخپله دغه آیت کې پوره جواب شته دی نو په هغه کې له هغه چا سره له دوستي او ملګرتیا څخه دمني کولو سبب نغښتی دی چې هغه دښمني پټوي، او په فاسدولو سره د مؤمنانو د اخته کولو قصد لري **(لایألونکم خبالا) یعني په فساد باندي ستاسي په اخته کولو کې زیارنه سپموي.**

**(ودوا ماعنتّم قدبدت البغضاء ...) یعني تاسي ته د سختیو د ګاللو او مشقت د راوستلو هیله لري.**

---

[٧]_ [ د قرطبي الجامع لأحکام القرآن ٤٥/٨].

او هغوی د اعلان کړل او د هغوی اعلان له هغه څه څخه ډیر کم دی چې د هغوی سیني یې پټوي، نو نهیه مقیده ده او مطلقه نده، او قاعده دا ده چې مقید د هغه په قید باندي او مطلق د هغه په اطلاق او مطلقیدو باندي پاته کیږي .

**ځلورم آیت :« لَّا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَن تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ...» (آل عمران /۲۸) ژباړه: مؤمنان دي بیله مؤمنانو څخه کافران دوستان او ملګري نه نیسي او څوک چې دا کار کوي نو هغه د الله له دین څخه په څه شی کې ندي پرته له دي چې له هغو څخه ځانونه وساتئ او پخپله الله تاسي له دي څخه ډاروي چې که تاسي له هغوی سره دوستي وکړه په تاسي به غضب وکړي.**

دلته نهیه او مني کول هم په (من دون المؤمنين ) باندي مقیده نهیه ده یعنی د باکفایته مسلمان له موجودیت سره د نامسلمان دوست او ملګري نیول رواندي .

**دریم :** له نورو آیتو څخه لري ددغو آیتو پوهیدل رواندي او که نه نو قرآن به یو له بل سره ضد اومخالف وي نو قرآن موږ ته په ډیرو آیتو کې بلنه راکړي چې په دین کې له مخالف سره نیکي او ښه معامله وکړو، له دي کبله د اسلام دعوت یو له بل سره په سماحت او تیریدنه او رحم باندي ولاړ دی او دادی تاسي ته ددي بیان :

اسلام له هغه چا پرته چې له موږ سره دښمني ښکاره کوي له ټولو انسانانو سره نیکي کولو ته بلنه ورکړیده لوی خدای فرمایلي دي :**« لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ » (الممتحنة/۸) ژباړه: الله تاسي له دي څخه نه مني کوي چې له هغو کسانو سره نیکي اوعدالت وکړئ چې له تاسي سره یې په دین کې جنګ ندې کړی او تاسي یې له خپلو کورو څخه نه یاست ایستلي بیشکه عدالت کونکي د الله خوښیږي.**

او قرآن دا بیان کړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سوله راوړي او جنګ یې ندې راوړی، او د اسلام د رسالت ستن په ټول انسانیت باندي رحم

دی، او دا دالله تعالی پدې قول کې څرګند او جوت دی چې په هغه کې د خپل رسول ستاینه کوي او د هغه د رسالت غرض ټاکي **«وما ارسلناک الا رحمة للعالمين»(الأنبياء/١٠٧) ژباړه: موږ ته عالميانو ته له رحمت نه پرته نه يې استولی .**

اسلام ددي قدرت لري چې د شدت د کارو او تندروي مخامختيا وکړي نو هغه له عامي سولي سره پاملرنه لري، او د کتاب له خاوندانو سره په هغې طريقه مجادلي کولو ته بلنه ورکوي چې هغه ډيره ښه وي لوی خدای فرمايلي دي:**«ولا تجادلوا أهل الكتاب الا بالتي هى أحسن وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ »(العنكبوت/۴۶) ژباړه: تاسي د کتاب له خاوندانو سره له هغې طريقي پرته مجادله مه کوئ چې هغه ډيره ښه وي.**

همداراز اسلام د کيني او بدبيني نه راپارولو ته بلنه ورکوي لوی خدای فرمايلي دي:**« وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ »(الأنعام/١٠٨) ژباړه: تاسي هغو کسانو ته کنځا مه کوئ چې له الله پرته د بتانو عبادت کوي نو هغوی به دتيري اوظلم په ډول په ناپوهي سره الله ته کنځا وکړي.**

همداراز اسلام ښه ګاونډيتوب، او شرته د لاس اچولو پرېښودلو ته بلنه ورکوي، لوی خدای فرمايلي دي:**« وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا »(المائدة/٨) ژباړه: د کفارو له قوم سره بدبيني او دښمني دي تا سي ديته نه راپوري وهي چې له هغوی سره عدالت ونه کړئ**

د اسلام ارزښتونه د مدنيتو په تعدد او وړوړوالي باندي ايمان لري او په هغو باندي موافقه کوي، او د مسلمانانو په زړونو کې پدې باندي ايمان قوي شوي دي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم او دهغه د صحابه و او يارانو پاک سيرت د مدنيتو په تعدد او د ثقافتو په وړوړوالي باندي ايمان مجسم کړي دي، او له هغو سره يې په واقعي اوعملي توګه چال چلند کړي دي، او د مدنيتو يوځای کيدل او غونډيدل د انسانيت د تمدني تاريخ له ښنو څخه يوه ښه ده، او هغه داسي قدر دی چې په هغه باندي د غالبيدو يا له هغه څخه د په ډډه کيدو لار نشته، او له دغه حاکميت کونکي قانون سره سم تل د هغه څه چې ګډ اوعمومي انساني دی او د هغه څه ترمنځ فرق شوی چې هغه مدنيتي ځانګړتيا او خصوصيت دی، او د مدنيتو ترمنځ د ټکر بدل دادی چې

انساني مدنيتونه يو له بل سره داسي تفاعل او چال چلند وکړي چې انسان اوانسانيت ته يې خير او ګټه ورسيږي، او د ودانولو خواته مخه کړي او اوسنيو ګواښو ته مثبت متمدن جواب ورکړي، دا د مدنيتو د ټکر کولو د هغې نظر يې برعکس چې په وسلو باندي سنباله خوا پخپلو علمي او مادي امکانياتو باندي ديته راپوري وهي چې په بل باندي ولکه راولي او هغه منفي کړي او د هغه په سرليک او د هغه په شتمنيو باندي تردي دعوي لاندي خيټه ولګوي چې د نړۍ په راتلونکو شخړو باندي به تمدني لاميل تسلط او کنترول ولري.

د اسلام ارزښتونه د مسلمانانو په زړونو کې دا خبره په کلک ډول سره ږدي: چې په ننۍ هغې نړۍ کې چې د تماسو په تکنالوژي کې د ډير زيات پرمختګ له کبله په يوه کمکي کلي بدله شوي ګوښه توب او پخپل ځان باندي راغونجيدل او رابنديدل محال او ناشونی کار دی، همداراز د يوه نړيوال مدنيت په بلنه پسي تلل پخپله دښکيل کونکي مدنيت د ولکی او تسلط د ټينګولو کاروايي ده او هغه د تمدني تابعيت هغه لار ده چې د هرامت تمدني خصوصيت او ځانګړتيا د هغه له لاسه باسي او هغه دښکيل کونکي مدنيت په يواځي ځنده باندي اړوي .

او اسلام خپلو پيروانو ته ټينګار کړي دي چې تعدد او وړوړوالی د الله په جهان کې د الله له سنتو او قانونو څخه دی، او د اسلام د رسالت زړی دادی چې په يوه دين باندي خلک نه مجبوروي، نو تعدد په دنيا او نړۍ کې د الله تعالی له سنتو او قوانينو څخه يوسنت او قانون دی، لوی خدای فرمايلي دي:**« لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ »(المائدة/۴۸) ژباړه: له تاسي څخه اې امتو موږ هر يوه ته شريعت او تګلاره ګرځولي ده او که الله غوښتي وای تاسي به يې يو امت ګرځولی وای خو تاسي يې ددی دپاره په ډلو وويشلاست چې تاسی په بيلوبيلو هغو شريعتو کې وازمو يې چې تاسي ته يې درکړي دي نو تاسي د خير کارو ته ورودانګی .**

اولوی خدای همدارازفرمايلي دي:**« وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ (۱۱۸) إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ »(هود/۱۱۸-۱۱۹) ژباړه: که ستا رب وغواړي نو خلک به په يوه دين باندي يو امت**

**وګرځوي اوهغوی له هغه چا پرته چې ستا رب په هغو باندي رحم کړی تل سره اختلاف لري او ددي اختلاف دپاره یې پیدا کړي دي.**

همدارنګه لوی خدای فرمایلي دي:« **لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ** »(البقرة/۲۵۶) **ژباړه: په دین کې په ننوتلو کې مجبورول نشته او رشد یا ایمان له بې لارې توب یا کفرڅخه ښکاره شو.**

اولوی خدای همداراز فرمایلي دي:« **فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ (۲۱) لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ** »(الغاشیة/۲۱-۲۲) **ژباړه: بیشکه ته اې رسوله هغوی ته د الله د وحدانیت دلیلونه او د الله نعمتونه یاد کړه ته په هغوی تسلط کونکی نه یې .**

د اسلام ارزښتونه له اسماني دینونو سره دښمني نه کوي، او قرآن کریم دا څرګنده کړیده چې په رسولانو او اسماني کتابو باندي ایمان راوړل د مسلمان د ایمان یوه برخه ده لوی خدای فرمایلي دي « **آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ** »(البقرة/۲۸۵) **ژباړه: رسول په هغه څه باندی چې په هغه باندي د هغه له رب څخه نازل شوی او مؤمنانو ایمان راووړ، ټولو په الله او د هغه په ملائکو او دهغه په کتابو او د هغه په رسولانو باندي ایمان راووړ، او موږ د هغه له رسولانو څخه د چا ترمنځ فرق نه کوو.**

خو دا روا ندي چې له دغه انساني سماحت او تیریدني څخه چې اسلام هغه له نامسلمان سره د مسلمان د اړیکي دپاره کلک بنسټ ګرځولی دی داسي معنا او پوهیدل وانه خیستل شي چې هغه دیته تیاري ده چې له هغو موجوداتو څخه چې د اسلام ددین له زړي او بنسټ سره اتفاق ونلري په کوم یوه موجود کې ویلې شي .نو دا سماحت او تیریدنه او نرمي اختلاف او فرق نه لغوه کوي بلکه هغو انساني اړیکوته بنسټ ږدي چه اسلام غواړي دخلکوپه ژوند باندي وچلیږي ،نوپه عقیدوي او تمدني او ثقافتي خصوصیتو باندي د ټینګار او تأکید د لغوه کولو دپاره لار او چاره نشته، خو اسلام نه غواړي چې دغه خصوصیتو نه او ځانګړتیاوي د امتو او ولسو ترمنځ تفاعل او چال چلند او د هغو ترمنځ تعاون اوهمکاري مني کړي.

د اسلام دعوت د ولسو په وړوړوالي او د ټولنو په تعدد ولاړدی، او یو له بل سره له پیژند ګلوي او تعاون پرته د هغوی راغونډیدو ته بله لار او چاره نشته، او دا دالله تعالی پدې قول کې راغلي دي : **« يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا»(الحجرات/١٣) ژباړه: اې خلکو موږ تاسي له نارینه او ښځي څخه پیدا کړاست او تاسي مو ولسونه او قبیلي وګرځولاست ترڅو یو له بل سره پیژند ګلوي وکړي .**

د اسلام دعوت او ارزښتونه یو له بل سره په سماحت او تیریدنه او خبرو اترو باندي نه په ټکر کولوباندي، او یو له بل سره په ګډ ژوند نه یو له بل سره په جګړو باندي ولاړدي، او د قرآن او شریفو حدیثو متنونه راغلل او دا په پوره وضاحت سره اعلانوي، نو الله تعالی خپل نبي ته امر کړی چې له هغو کسانو څخه عفوه وکړي چې ایمان یې ندې راوړی او له هغوڅخه مخ واړوه الله تعالی فرمایلي دی :**« وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ (٨٨) فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَامٌ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ » (الزخرف /٨٨-٨٩) ژباړه: او د نبي محمد دا خبره چې ویي ویل اې ربه دغه کسان داسي خلک دي چې ایمان نه راوړي، الله تعالی وویل چې ته له هغوی څخه مخ واړوه او ووایه چې له تاسي څخه دي سلام وي نوهغوی به بیا پوه شي .**

همداراز الله هغه ته امر کړی چې په ښه ډول سره مخ واړوي او فرمایلي یې دي:**«فاصفح الصفح الجميل »(الحجر/٨٥) ښباړه: نو ته اې رسوله له خپل قوم څخه پداسي ښه ډول مخ واړوه چه په هغه کي ویره نه وي .**

اولوی خدای فرمایي:**«خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ »(الأعراف/١٩٩) ژباړه: ته اې پیغمبره د خلکو له اخلاقو څخه اسانه واخله او په نیکو باندي امر وکړه او له ناپوهانو څخه داسي مخ واړوه چې د هغوی د ناپوهي مخامختیا مه کوه .**

اولوی خدای فرمایلي دي:**« قُل لِّلَّذِينَ آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ »٠الجاثية/١٤) ژباړه: ته اې پیغمبره هغو کسانو ته چې ایمان یې راوارېدی ووایه چې هغو کسانو ته د الله د ورځو له پیښو څخه نه ډارېږي یعنی کفارو ته د هغه اذیت ښښنه وکړي چې هغوي ته یې رسولی دی ترڅو الله خلکو ته د هغوی د کار(د کفارو د اذیت دبښلو) اجر ورکړي .**

او د اسلام او د هغه د رسالت هدف او موخه دا نده چې نامسلمان اسلام ته راواړوي ،بلکه د هغه هدف او موخه د اسلام د حقيقت تشريح کول دي، او د هغه رول د اسلامي شريعت د صفايي ساتل او له هغه څخه دفاع کول دي.

اسلام له نورو عقيدو سره دښمني نلري، او هغه د شدت د کارو او ترهرګري غندنه کوي، او الله تعالی ټول خلک له يوه نفس څخه پيداکړي دي، او په عقيدو کې اختلاف او بيلوالی بشري طبيعت دی، او عقيدي نه پلورل کيږي او نه پيرودل کيږي، او په عقيدو باندي مجبورول نشته، او اختلاف يو له بل سره همکاري او تعاون او پيژندګلوي نه مني کوي.

د اسلام ارزښتونه موږ ټول ديته رابولي چې د ټولو انسانانو ترمنځ سوله راولو ،نو د انسانانو ترمنځ ګډشيان ډير دي نو راځئ چې موږ د وينو د افشارو د تويدو په درولو کې له هغو څخه استفاده وکړو، نو موږ ته ښايي چې ديني احساس له هغو کينو او بدبينيو څخه صاف کړو چې بشريت د هغو ګران او ستومانونکی لګښت او بيه ورکړيده، نو راځئ چې موږ ټول اې ښاغلو د شدت د کارو او لوږي او نيشتمني دمخامختيا دپاره اوږه په اوږه ودريږو، او يو له بل سره د بشريت د نيکمرغه کولو دپاره همکاري وکړو، له تاسي ټولوڅخه مننه .

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

## د ازهر د ژباړي مرکز

ازهرشریف هغه لوی اسلامي علمي اداره ده چې د اسلامي تراثو ساتنه، څېړنه او خپروني، او ټولو ملتونو ته د اسلام پیغام په امانت سره رسوی، د تمدن په جوړولو کښې مرسته کوي د امن او آرامی لپاره کار کوي ترڅو په دنیا او آخرت کښې نفسونو ته راحت ور په برخه کړي، همدا ډول د عربي تمدن بیا راژوندی کولو او د عربی ملت علمي او فکري میراث ساتلو لپاره کار کوي، او په انسانی پرمختګ کښې د عربو اغیزه څرګندوي، د علم او ادب د پرمختګ او ودی لپاره کار کوي همدا رنګه د ټولني لپاره خدمت ملي او انساني موخو او د روحي ارزښتونو لپاره کار کوي، او د اسلامی او عربي نړۍ لپاره د اسلامی شریعت متخصصین او د فکر خاوندان وړندی کوي، همدا ډول د دینې کلتور او د عربي ژبی چې د قرآن ژبه ده کدرونه روزي.

### د ازهر د ژباړی مرکز جوړول:

د ازهر شریف د پرمختګ په چوکاټ کښې د ازهر شریف شیخ لوی امام استاذ او دکتور احمد محمد الطیب د ژباړی مرکز جوړولو امر وکړ چې د بهرنیو ژبو ګنې څانګې ولري، او د دی مرکز جوړول د ازهر شریف شیخ د ۲۰۱٦ م کال (٤۹) پریکړې مطابق **" د ازهر د ژباړی مرکز"** د نوم لاندی جوړ شو، چې د ازهر شریف ټولو څانګو او ادارو: د ازهر مشیخه، رواق، د ازهر پوهنتون، د اسلامي څېړنو مرکز او د ازهر مکتبونو لپاره په ټولو برخو کښې ګڼو ژبو ته، سمه او پیاوړی ترجمه وړاندی کړي، ترڅو لاندی موخی ترلاسه کړو:

۱. د غوره کتابونو، څېړنو او لیکنو بهرنیو ژبو ته ژباړل، چې عامه ګټې لري، او دا کتابونه او لیکنې د علماء کرامو د کمیټې له خوا په ګوته کیږي.
۲. د هغه مهمو کتابونو او لیکنو عربی ته ژباړل چې په بهر کښې په بهرنیو ژبو لیکل کیږي.
۳. د کنفرانسونو او سیمینارونو فوری ژباړه چې د ازهرشریف له خوا جوړیږي.

٤. ګڼو ژبو ته د قرآن کريم د معناګانو نوي او معصرى ترجمى او څيړنې او د هغوی څخه د غوره معناګانو انتخابول، ترڅو د مسلمانانو پام ورته راوګرځي، او خپرى شي.
٥. ګڼو ژبو ته د نبوي آحاديثو ترجمه او د هغوی معناګانې، او د هغه ژباړو څيړنه چې پدى برخه کښې ترسره شوی او د هغي تصحيح يا سمول، او په همغه ژبه يې خپرول ترڅو د مسلمانانو مخ ورواوړي او ګټه تري پورته شي.
٦. د مونوګرافونو او علمي څيړنو ژباړه، چې د غير عربي مسلمانانو د ټولنو مشکلاتو ته حل لاره لټوي او مهم موضوعات يې څيړي.
٧. د هغه خطبو او ويناوو ژباړل، چې د غير عربي ټولنو د ستونځو حل لاره وړاندي کوی، چې د ازهرشيف لخوا د همدی مقصد لپاره وړاندی شوي وي.
٨. د هغه فيلمی توکو ژباړه چې اسلام په زړه راښکونکې ډول معرفی کوي چې د ازهرشيف لخوا د همدی مقصد لپاره جوړ شوي وي.
٩. د تحريرى ژباړی لپاره د با صلاحيته ادارى سره په همکارى د کورسونو جوړول.
١٠. د فورى ژباړی لپاره د با صلاحيته ادارى سره په همکارى د کورسونو جوړول.
د ازهر شريف د ټولو ادارو لخوا د ژباړل شوي کتابونو او څيړنو يو ليست چمتو کول او د هغي طبقه بندى کول، چې د نړيولو او انساني مهمو موضوعاتو په هکله ورڅخه ګټه واخيستل شي، او دا کتابونه او ليکنې د سره ترتيب، بياکتنه يې وشي ترڅو دروانو ستونځو حل لاره په ګوته کړي او خپاره شي.
١١. د علمي ژورنال خپرول چې په دقيق ډول د ژباړي د مرکز د وظايفو لايحې په ګوته کړي.
١٢. د دی مرکز د کارکوونکو د مهارتونو لوړولو لپاره د مسلکي کلتوري او علمي کورسونو جوړول، ترو څود دوي مهارتونه لوړ کړي.

ژبي: انګريزي، فرانسوي، جرمني، اسپانوي، اندونيسي، اردو فارسی، ترکي يوناني، پښتو او عبراني. همدا ډول اوس د (چينايي، ايټاليايي، سواحيلي او جاپاني ژبو کاري ګروپونه جوړيږي.)

د ازهر د ژباړي مرکز د "رېښتينې اسلام " د لړۍ لومړنۍ ژباړه وړاندي کوي چې پدی ژباړل شوي کتابونو کښې د اسلامي اساساتو پيژندنه، په اسلام کښې د انسان ارزښت، د ارزښتونو په ساتنه باندی ټينګار، چې د انسان، حيوان، نباتاتو او جماداتو ارزښت لوړوي. همدا ډول هغه اصولو باندی رڼا اچوي که چيرته مسلمان د خطر، يا حملي او تيري سره مخامخ کيږي څنګه د خپل ځان څخه دفاع وکړي، چې بايد انساني اصولو ته ژمن ووسي، او د کايناتو ودانولو ته ژمن ووسي نه ورانولوته.

د دی لړۍ مهم کتابونه: "مقومات الإسلام" يا "د اسلام بنسټيز عناصر" چې د ازهر شريف شيخ لوی امام استاذ او دکتور احمد الطيب ليکلی، "الإنسان والقيم في التصور الإسلامي" يا "په اسلامي فکر کي دانسان ارزښت" چې د مصر د اوقافو پخواني وزير ښاغلي اوستاذ او دکتور محمود حمدی زقزوق ليکلی، او "نظرية الحرب في الإسلام" يا " په اسلام کښې د جنګ نظريه" چې شيخ ابو زهرة ليکلی او "نبي الإسلام في مرآة الفكر الغربي" يا "د اسلام پيغمبر د غربي فکر په آينه ښې" کتاب چې استاذ او دکتور عزالدين فراج ليکلی.

د ازهر د ژباړی مرکز د ټولو لوستونکو تبصرو او اندونو ته چې د لغوي او يا هم چاپي او دی ته ورته تيروتنو په هکله وی مرکز سره د خپلو معلوماتو شريکولوته ښه راغلاست وايې. او دا دعا کوو چې الله تعالی دی د ژباړی دا لړۍ د انسان د ژوند او د ټول بشريت د مثبت بدلون لپاره يو نيک پيل وګرځوي، چې په هر ځای او هر وخت کښې په سم ډول د بشريت لپاره د ځمکي آبادولو سبب وګرځي.

د مرکز رئيس

يوسف عامر

# فهرس

**موضوع** **صفحة**

١ــ وړاندي کول.........................................................................................
٢ــ مقدمه.............................................................................................
٣ــ د الولاء او البراء مفهوم او معنا د هغه چا په نظر چې په هغه باندي قايل دي..............
٤ــ د هغو په نظر د ولاء او براء مرتبه....................................................................
٥ــ د هغوی د شيخانو او علماوو له خبرو او قولو څخه.............................................
٦ــ د هغوی په رايه د کفارو ملګرتيا او دوستي له شکلو څخه دا دي............................
٧ــ له قرآن کريم څخه د هغوی دليلونه...................................................................
٨ــ يوه عجيبه رايه.......................................................................................
٩ــ په موضوع باندي سم پوهيدل........................................................................
١٠ــ پدغي عقيده کې د دوو اساسي آيتو او نورو آيتو سم پوهيدل................................
١١ــ د ازهر د ژباړی مرکز..................................................................................
١٢ فهرس...................................................................................................